

# د زړه ور سمندري غله تقليد



لیکوال : هایس روبرټ
ژباړنه : ماریا صدیقي

Download from:aghalibrary.cm



لومړی مخ

سمندري غل ، مودي يوه ورځ له مور سره د يوه کار لپاره دباندې ولاړ.






دویم مخ

دوی د عطاری په دوکان کې څه واخیستل ، بیایي په خپل ځانګړې رستورانت کې نخود وخوړل .




دریم مخ

تر هغه  وروسته د موډي مور وويل : ( اوه ! موږ باید ډاکټر ته ورشو.)






ډاکټر د موډې زړه ، فشار او ګونډې وکتلې.





وروسته ډاکټر وویل (مودي- دې بله ورځ د پیچکاري لپاره راشي ، چې د ناوړه ناروغیو څخه وژغورل شي.)




شپږم مخ

د مودي پيچكاري نه خوښېده .





په هماغه شپه د مودي پلار کورته راغی ، او پلار ته يي د ډاکټر په هکله ټوله کيسه وکړه .




اتم مخ

د مودي پلار وويل : ( مودي ! له پيچکارى څخه د ژغورنې لپاره يو څه درښييم ، خوهغه د يوې نقشې له مخې پيدا کولى شې . اوس نو دغه نقشه او زما چټکه بېړۍ واخله اوهغه پيدا کړه . که ته ارامه شي نو کولى شي چې ايسکريم وخورې ).




نهم مخ

موډي د نقشې له مخې سمندر تر هغه ځایه چې د اوبو څپې پسې زیاتېدې ، وڅاره.



لسم مخ

د نقشې له مخې دی د اتشفشان د هغه غره پرسر چې له لاوا ( اور لمبې ) څخه ډك وو ، وخوت.



یولسم مخ

نوموړی د غلا پرلاره  له وحشي او خطرناکو حیواناتو تېر شو.




دوولسم مخ

ترځو چې ده خپل ځان هغې ماڼۍ ته چې دغره پرسر له یخ څخه جوړه شوې وه ، ورساوه.






مودي په ماڼۍ کې یو پاړو ګرچنګاښ ولید ، چې د شاهي تخت پرسر ناست وو.




ځوارلسم مخ

چنګاښ ده ته وویل : ( ته له ډېرو ستونزمنو لارو څخه تېر شوی یې ، نو زه به دغه پاړوګره ډېره درته ډالی کړم . او هرکله چې تا ته پیچکاری درکول کیږي ، نو ته به دغه ډېره کیکاږې ، بیا به تر دریو پورې وشمېرې . څو شیبې به په هېڅ ونه پوهېږې او ستا د پیچکاری درمل به حلاص شوي وي ، له دغه کار وروسته کولی شې چې ایسکریم وخورې ).





مودي له چنګاښ څخه ډېر خوشحاله شو او مننه يي ورڅخه وکړه ،او د کور پر لور روان شو ، د دې لپاره چې ستوماني يي له منځه لاړه شي ، ويده شو.




شپاړلسم مخ

بله سحار ده هماغه کوډکره ډبره له ځانه سره واخیسته او ډاکټر ته ورغی .




اوه لسم مخ

ډاکټر د سندرو په ویلو سره د مودي پېچکارى له درملو ډکه کړه .




اته لسم مخ

مودي خپلې سترګې پټې کړې ، ډبره يې کيکاږله او وې يې ويل : يو ، دوه



نولسم مخ


(کلمه نشته )



شلم مخ

درى !

چنګاښ رښتیا ویلي وو ، د پیچکارى درمل خلاص شوي وو . اوس نو مودي له خطرناکو ناروغیو او له نورو دردونو څخه ژغورل شوى وو.




یوویشتم مخ

ده په لاره کې ایسکریم وخوړل .

---

**دکیسې پای**



( د زړه ور سمندري غله تقليدکول ) کتاب د ماشومانو لپاره دی . دغه کتاب د سمندری غله د تقليد کولو په اړه دی . او په دې کيسه کې مودي اړ وو چې د پېچکاري کولو لپاره روغتون ته ولاړ شي ، خو ده داسې يوه زړېرمه وموندله چې هر څه به يې ورته ښکلي ښکاره کول .